د افغاستان اسلامي جمهوريت | جمهوری اسلامی افغانستان
د ټاکنيزو شکايتونوکميسيون | کميسيون شکايات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan

Electoral Complaints Commission

# د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون اعلاميه

کابل ښار: ۱۳۸۹/۵/۳۱

د ټاکنو د قانون د ديارلسمي مادې د پنځمي فقرې د لومړي بند پر بنسټ ، د نوماندی د وړتيا د شرطونو او معيارونو څخه يو يې دادئ چې د ملکي خدماتو مامورين بايد د نوم ليکنې څخه مخکې له خپلو دندو استعفا کړې وي.

د ټاکنيزو شکايتو کميسيون د ولسي جرګې د وروستي نوملړ تر اعلان وروسته ، د هغو شکايتونو په څېړلو پيل وکړ چې ځيني محترم نوماندان په خپل وخت له خپلو دندو څخه استعفا نه وه کړې ،په پايله کې وموندل شوه چې يو شمير نوماندانو د نوم د ليکلو پرمهال له خپلو دولتي دندو استعفا نه وه کړې . نو پر همدې اساس د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ۱۰ تنه نوماندان په خپل وخت له دولتي دندې د استعفا د نه کولو پر بنسټ د نوماندی وړ نه بولي اوډ ټاکنو له خپلواک کميسيون نه غواړي چې د دوی نومونه د عامه پوهاوي لپاره اعلان کړي . لرې شوي نوماندان عبارت دي له :

۱ – حاجي عبدالعزيز د هلمند د ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۲ – محمدسليم د هلمند د ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۳ – نوراحمد د بغلان د ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۴ – نادره نهرين وال د بغلان د ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۵ – داکتر ماهره محمدي د پروان د ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۶ – محمدهاشم سنګر نيازي د کابل د ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۷ – حاجي صداقت زاهد د کابل د ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۸- سيد عنايت الله هوفياني د کابل ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۹- عبدالرحمان د تخار ولايت د ټاکنيزې حوزې.

۱۰ – سيد آقا نور د هلمند ولايت د ټاکنيزې حوزې.

د يادونې وړ ده چې:

۱- له دې وړاندې هم ۱۵ تنه نوماندان چې له خپلو دولتي دندو يې په خپل وخت استعفا نه وه کړې ، د ټاکنيزو شکايتو دکميسيون د پريکړې پر بنسټ له وروستي نوملړ څخه لرې شوي وه . د يو شمير نورو نوماندانو دوسيې چې په خپل وخت له خپلو دولتي دندو څخه د استعفا نه ورکولو په تور تورن دي تر څيړنو لاندې دي او په راتلونکو ورځو کې به ددې څيړنو وروستی پايلې خلکو ته اعلان شي .

۲- د ولسي جرګې د نوماندانو د لومړني او وروستي نوملړ د اعلان له پيل راهيسې هغه نوماندان چې د بيلابيلو لاملونو له وجې د نوملړ څخه ايستل شوي ۶۲ تنو ته رسيږي

**د ټاکنيزو شکايتو کميسيون**